# د ښاغلی قدوس پرهيز د شعرونو بيلګی

## پسرلی سندره

راغی پسرلی په پښتون خوا کې ډير سيلونه دي
غرو رغو کې ګل ښارونه ګل هرځای ګلونه دي
نوی نوبهار دی له خوښی زړونه باغ باغ وينم
بيا په زيرو ګلو د پی مخو اتڼونه دي
وخت د ګل اومل او دمستی او راز اونياز دی دا
سخ د هغه چا چې معشوقو سره يې رازونه دي
ستا په برکت د لوړو غرو شين پسرليه بيا
ګرم په هرځای کې د ښکلا ډير بازارونه دي
ګرمې هنګامې بيا د ښکلا او رنګ وبوی شولې
هرهرځای شوګل هرځای ګلرخو مکيزونه دي
وخت دپسرلي مو مبارک شه زلمو نجونو بيا
جوړکړی ځانته ژوند چې په سينه مو ژوندي زړونه دي
راشه لبونی په سرو شونډو «پرهيز» مات کړه خپل
وخت د پسرلي کې زاهد هم خښلي جامونه دي

## بيوفا يارته

بيوفا ياره ليری ځه په مخه رانشی بيا
هومره ځه ليری چې په سترګوراته رانشی بيا
بس دی نور بس دی په ځير ځير د چل کاته مکوه
زغملی نشم پام کوه چې په خندا نشی بيا
چې ځه مې وکړل، ځه دې وکړل دا به نه ځيرو هيڅ
پريرده چې داغ په ټټر ګرزمه پخلا نشی بيا
شراب دی ستا کباب دی ما خپل عذاب کې پريږده
پام کوه پام ډکه پياله چې د مينا نشې بيا
تا د خوړی مينې په نوم ماته دوکه راکړه
بس دی په زړه مې لوبی مکړه چې رسوا نشی بيا

تا د (پرهیز) د زړه په وینوباندی لوبی وکړی
زما وړنه یی پام کوه چې خانتماء نشی بیا

## رڼا ورکه ده

ورک په مایوسی کې یم، هیله رانه ورکه ده
مینی پسی ګرځم هر ځای مینه را نه ورکه ده
توری تروږمی کې تل، بابېزې لوخې پوخې کړم
وچ لکه لرګې شومه چې وینه رانه ورکه ده
وسوم لولپه شوم لوغړن یم په ناخوالوکې
خیری ګریوان ګرځم چې حسینه رانه ورکه شوه
دا چې آشنایی کې نا آشنا ګوری حسینی بیا
سترګه حق پالونکی اوحق بینه رانه ورکه ده
پوه شولې (پرهیز) چې ماده کې معنی ورکه ده
توره تروږمی کې رڼا سپینه رانه ورکه ده

## دوصال نذرانه

جانانه تا ته چې هر دم جان و جانان وایمه
سامی مری ته ده راغلی چې جان جان وایمه
مال و دولت عزت قوت که مې ځی جان دې نه ځی
چې ستا وصال ته دا مې نذر دی ایمان وایمه
د بیلتانه خپسی خوب کې ډارولی یم ډیر
اوس ستا یادونه ورم بستر ته هر زمان وایمه
زړګی مې ستا د تورو زلفو په ول ول نښتی
ځکه بې زړه یم ستا په مخ د بت په شان وایمه
(پرهیز) به داسی لیونی او لوغړن نه و هیڅ
که یی زړګی تا سره نه و بندیوال وایمه

## تیره شپه

تیره شپه تا چې په الفت راته کتنه وکړه
رښتیا چې  دا دی په ما لویه پیرزوینه وکړه
تا چې په مینه خپلې غېږی ته نژدی کړمه زه
په مینه مینه می له تا ډیره مننه وکړه
زما د زړه په سوړ نغری کې دې لمبه بله کړه
په توده مینه دې په ما زیاته لورنه وکړه
دا څه تاثیر ؤ چې وجود مې ټول لمبه لمبه شو

په بیخودی کې ولې داسې دی بلنه وکړه
د دغه خوند په حرارت له خوبه ویښ شومه زه
زار چې (پرهیزه) په لنډو دې ویښندنه وکړه

## زه او شمع

یوه شپه تته رڼا کې په ژړا وم
لکه شمع سوزیدمه یک تنها وم
شمع ورو ورو سوزیده ویلې کیدله
سوز ګداز د عشق نه ډیر په واویلا وم
ما وې شمعې ته په څه داسې ژړا کړې
زه اریان ستا دې ژړا ته لا پخوا وم
شمعی وی په نری ژبه په ژړا کې
چې له اصله سوز ګوداز ته زه پیدا وم
څو چې سوزم ویلې کیرم ژوندی پایم
که دا نه وی لا د وخته زه فنا وم
هومره ژوند کړم چې سوکړی شم سر تر پایه
زه پخوا لا پوه دژوند پدی معنی وم
حقیقت د بیوسی شمعی څرګند کړ
که څه هم (پرهیز) د سوز ګداز اشنا وم

## مسکا

لیلی ستا په سرو شونډو کې موسکا مزه کوی
رښتیاچې نازنینی ستا ادا مزه کوی
په ډیره توده مینه مې یو ځل خواته نژدی شه
قسم چې دا ستا خوله له هرې خوا مزه کوی
چې ته نازو نخری کړی زه عذرونه او زاری
په ترخ کې غلې غلې څه عطا مزه کوی
که بای می لوده عقل هیڅ ګرم نه یم محبوبی
د مینی د پوړی دا ارتقا مزه کوی
(پرهیز)به سپیلنی شی ستا د حسن په مجمر کې
محبوبی دا لوګی تاته بیا بیا مزه کوی

HOWD
هود

## دمینی دنیا

ستا ښکلی دنیا ته په هوس ارمان راغلی یم
لاس دمینې راکړه چې زه ډیر ستومان راغلی یم
کښینه مخامخ راسره ای محبوبی جار دې شم
ګوره سوی لوی د پتنګ په شان راغلی یم
ښه په مینه مینه نازولې راته وګوره
ستا د خوږو سترګو په آرزو حیران راغلی یم
ستا په لټه راغلم راته ګوره د مجنون په شان
ستا لیدو د پاره په ژړا افغان راغلی یم
وکوه زړه سوی او ډیره مینه ته له ماسره
خیر که مسافر یم زه په ښه ګومان راغلی یم
راشه د سرو شونډو په پیاله مې تنده ماته کړه
مات به خپل (پرهیز)کړم زه په کلک پیمان راغلی یم

## خیال

بیګاه ښه شپه وه تا سره ناست  په  پالنګ ومه زه
د دنیاګی ټولو غمونو  نه په څنګ ومه زه
ما درته کړی ګیلې ماڼې  تا کړې  دناز خبری
ستا د سرکو شونډو ښکلا ته پواترنګ  ومه زه
د ډیری مینی غورزو پرزو کې ناڅاپه  ویښ شوم
چې نه وصال و نه مینا نه ستا په څنګ ومه زه
یواځی پروت ومه زه (پرهیز)ستا په خیالونو کې ډوب
په صبحدم کې مایوسی سره په جنګ ومه زه

## د قدر شپه

هغه شپه یاده کړه چې دواړه خوا په خواوسره
ناز نیازونو کې غمونونه جدا وسره
دپیغلتوب مستو مستیوکې غرقا آوی ته
زه د ځوانی په نشه ډوب وم معما وسره
په ناز مکیز به سر زما په څنګل کیښوده تا
ما به کړې لوبې ستا د زلفو اژدها وسره

ستا شرابی شونډو کې پتی د ځوانی نشی وې
زه مست خراب وم ستا دحسن د مینا وسره
د قدر شپه وه ای (پرهیزه) بیا به راشی کله؟
چې رازو نیاز کې محو شوی تر سبا وسره

## مستی خبری

وینځی چه مې زړه تل له غمونونه
جار شم د مغان ډکو خمونونه
فرش مې مصلي کړه د ساقي پښو ته
اخلمه اوس خوند ډکو جامونونه
ژوند مې  ابته شو پرهیزونو کې
هسې شوم ستومانه دې سوچونونه
لاړ د خرابات مې اوس نیولی ده
موړ یم د چلو  ریاضتونونه
کله وی مستی  کله خمار دلته
وینم جهانونه د کیفونونه
خوښ یم د رندانو په محفل کی اوس
بیا مې مونده  ژوند دې اتېونونه
مست وخراب خوښ یم خرابات کې پروت
نه کړم انتفاع د چا پندونونه
دا مستې خبرې د جنون نه دی
کړمه دا  له پوهی او فکرونونه
ما چه خپل (پرهیز) په میو مات کړلو
کړم یم  دخوبانو له نازونونه

## دغیرت مځکه

آزادي زموږ نشان دی
آزادي زموږ ایمان دی
په دې لوړو جګو غرو کې
په دې ترږو او کمرو کې
په دې شنو ښکلو درو کې
شهیدانو ادیرو کې
ننګ غیرت عزم عیان دی
توریالی هریو افغان دی

HOWD
هود

هر ځلمی دلته فرهاد دی

هریو مېړ دلته پولاد دی

هر غلیم دلته ناښاد دی

په شا تللی نا مراد دی

هر پښتون مرد، میدان دی

تاریخونو کې عیان دی

میراثه دلته پلرونه

د اسلافو او نیکونه

هغو سترو ننګیالو نه

خپلواکي پاتې هغو نه

دا شعار د لوی افغان دی

آزادي زموږ ایمان دی

دغه مځکه دغیرت ده

دغه خاوره د همت ده

دا ورشو د شهامت ده

دا ځانګو دحریت ده

د «پرهیز» دغه اعلان دی

توریالی مو زوږ او ځوان دی

HOWD هود

**www.howd.org**